مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۲/۱۹

# غــــزل

زړکي ستا نظر په څه دی؟ بازه ته ولي خونخوار یې؟
دا د بود نابود دنیا کې، دا د هست نیست فلسفه کې
خدایه زما څه حق جوړیږي، خدایه ستا مقام بیا کوم دی؟
د تخلیق په جریده کې د خالق په دې کیسه کې
خوار لاسونه څومره غوخ شي، څو لمنې به پرې کیږي
حیرانتیا د پیغلو څه ده، د یوسف په زلیخه کې
زما توله نږی دومره، تا نه پیل په تا ختمیږي
طوایفه دنیا ناځي ستا د سترګو تلوسه کې
زما ونډه خدایه غواړم، د خوبانو په تقسیم کې
د حمزه (۱) په روغ جنت کې، د ښاغلو پیمانه کې
خلک وایي زړه راټول شي، بار بار یو مخ ته کتو نه
بیا نو ولي هر ځل ډوب شم، ستا د حسن تماشه کې
مستانه نرګس غوړیږي، شوخ و شنګ دې په کتو شي
ستا تصویر د ندا (۲) مخ ته، په نظر د اینه کې
دا بازار د اهل ذوقو څه نظر لري سمسور کې
د شیدا په نزاکت کې د غالب هره مسره کې

۱۷اکتوبر ۲۰۲۲/ کابل ۳:۰۳pm

لمنلیک:
۱ ـ په دې بیت کې د حمزه بابا د شهکار شعرونو دوو مسرو ته اشاره ده. د سترګو نرګسي شاعر ویلي:

«ما حمزه ته یثربي باده خاونده
په ښاغلي پیمانه کې د افغان را»

«وایي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته له ښنتو سره ځم»

۲ ـ ندا هغه نوم دی چې خپلې کوژدنې ته پرې ور غږ کوم

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ